﴿ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴾

سورة القمر

ژباړه:

او بېشکه موږ قرآن اسانه کړی د پند او يادولو لپاره،
نو آيا څوك پند اخېستونكي، يادونكي شته ؟!

# د قرآن پاك
# اسانه زده کړه

ليکوال

شاه ولي (حنيف)

# دکتاب ځانګړنې

دکتاب نوم : دقرآن پاک اسانه زده کړه

دلیکوال نوم: شاه ولي «حنیف» وفقه الله

ځانګه: قرآن پوهنه

دکمپیوټر چارې : پخپله لیکوال

بریښنا لیک : shahwlyallah@gmail.com

اړیکه: +93(0)780118031

خپرندوی : «اسلام» آنلاین اکاډمی

له اکاډمی سره «د دین د پوهې او آنلاین زده کړې لپاره» په کرښه شئ!

واټساف، وایبر، ایمو، تلیګرام: +93(0)796153513

فیسبوک، تویټر، انسټګرام: Islam Online Academy

بریښنا لیک : Islamonlineacademy1@gmail.com

د چاپ ټول حقونه له لیکوال سره خوندي دي.

Islam Online Academy +93796153513

بسم الله الرحمن الرحيم

د پاک او بښونکي الله عَزَّوَجَلَّ په نوم

Islam

# لړلیک


| شمېره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سریزه | ۱ |
| ۲ | د قرآن پاک د زده کړې، ویلو او اورېدلو بدله «ثواب» | ۳ |
| ۳ | د قرآن پاک د لوستلو آداب | ۶ |
| ۴ | د عربي ژبې بنیادي توري | ۱۲ |
| ۵ | اړینې پېژندنې | ۱۳ |
| ۶ | مخارجو ته لنډه کتنه | ۱۵ |
| ۷ | مخارجو ته بشپړه کتنه | ۱۸ |
| ۸ | صفاتو ته لنډه کتنه | ۲۷ |
| ۹ | صفات عارضه او حکمونو ته کتنه | ۲۹ |
| ۱۰ | د قرآن پاک په موږ څه فرض او حق دي؟! | ۴۵ |
| ۱۱ | اخځلیکونه | ۴۷ |
| ۱۲ | پای | ۴۷ |


Islam Online Academy +93796155512

# سریزه

## اللهم لك الحمد كما ينبغي لجلال وجهك، وعظيم سلطانك ؛ اللهم لك الحمد كله، ولك الشكر كله.

د پاک الله جَلَّ جَلَالُهُ لپاره ټولې هغه ستاينې دي چې د هغه له لويي سره ښايي.

**اما بعد!** دا چې اسلام د انسانانو د ژوند د بريا ، ښکلا او هر ډول ښه والي لپاره يواځنی لاره ده؛ نو! اړينه ده چې اسلام زده او بيا ورته د ژوند په ټولو چارو کې د عمل بڼه ورکړو.

۱. اسلام هغه دين، قانون او تګلاره ده چې زموږ پيدا کوونکي، او پالونکي الله عَزَّوَجَلَّ زموږ او ټولو انسانانو او پېريانو لپاره را لېږلی ده؛ ګران پيغمبر محمد مصطفی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته په پيغام ورکولو سره.

او دين اسلام عبارت له ټولو هغو څخه ده چې په وحي ( قرآن پاک، پيغمبري لارښوونو ) کې دي؛

الله عَزَّوَجَلَّ ويلي : ﴿فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِي أُوحِيَ إِلَيْكَ إِنَّكَ عَلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ﴾ [الزخرف: ٤٣]

ژباړه : ونيسه هغه ( قرآن پاک ) چې تاته د وحي له لارې درکړل شوی؛ بېشکه ته په سيده« نېغه » لاره (دين اسلام) باندې يې.

۲. او دا دين به د خوږ پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ملګرو «اصحابو» رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په شان زده او عمل پرې کوو؛

الله عَزَّوَجَلَّ ويلي : ﴿فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ [البقرة: ١٣٧]



Islam Online Academy +93796153513

ژباړه : که دوی ایمان راوړو ځنګه چې تاسو ایمان راوړی نو بیا دوی په سمه لاره دي، او که دوی مخ واړول نو بېشکه بیا دوی په بل اړخ کې دي (له الله عَزَّوَجَلَّ څخه، یعنې : ورسره په جګړه کې دي) ، نو ژر ده چې الله عَزَّوَجَلَّ به له دوی څخه ستا پوره شي، او هغه الله اورېدونکی او پوهه ذات ده.

زده کړه د دین د امت محمدي ﷺ له ټولو نېکانو پوهانو څخه کول پکار ده؛ د پېغمبر ﷺ له خوږو ملګرو او نورو امامانو څخه را نېولې آن ددې زماني تر یو نېک دینپوه پورې؛

البته! د هر چا خپله رتبه او درجه ده چې په هغې کې یې پېژندل پکار دي.

۳. دغې موخې ته د رسېدو لپاره، او وروسته له دې چې دانټرنټ له لارې « آنلاین » په ښوونې کې اړتیا احساس شوه و مو غوښتل چې د قرآن پاک اسانه زده کړې، اسلامي ښوونې او روزنې، د خوږ پېغمبر ﷺ او د هغه د ملګرو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ ژوند، لمانځه او داسې نورو دیني پوهنو اړین موضوعات او مطالب خپلو وروڼو او خویندو ته د دوی په ژبه (پښتو، او دری) وړاندې کړو؛

تر څو په ښوونه او روزنه کې خپل مسؤلیت په ښه توګه ترسره، او تر څنګ یې نورو عامو مسلمانانو ته چوپړ او خېرلټونه وکړو.

په اخېر کې له خپل مهربانه ربه غواړم چې عملونه مو د هغه د منلو او قبلولو وړ وګرځوي او د لا زیاتو لاربښوونه او توفیق راکړي.

ستاسو د دنیا او آخرت د بریا په هیله!!!

شاه ولي (حنیف)

۲۰۲۰/۱۲/۲۰ ز ۱۳۹۹/۹/۳۰ هـ ل ۱۴۴۲/۵/۵ هـ س

کابل – افغانستان



Islam Online Academy +93796155513

# د قرآن پاک د زده کړې، ویلو او اورېدلو بدله «ثواب»:

۱ - الله عَزَّوَجَلَّ ویلي : ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِّمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٥٧﴾ قُلْ بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿٥٨﴾﴾ [يونس]

ژباړه : اې تولو خلکو! بېشکه ستاسو د رب له لوري تاسو ته پند راغلی، او درملنه ده د هغه ناروغیو چې په سینو (زړونو) کې دي، او لاربښوونه ده، او لامل د مهرباني ده د مؤمنانو لپاره (۵۷) (اې پیغمبره ووایه د الله عَزَّوَجَلَّ په فضل (دین اسلام)، او مهرباني (قرآن پاک) باندې خوشحالي وکړئ دا غوره دي له هغه څه نه چې دوی یې را ټولوي (د دنیا له مالونو او بناېستونو، ډولونو څخه) (۵۸)

۲ ـ عَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ.[1]

ژباړه : له عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی، چې نبي ﷺ وویل : غوره ستاسو هغه څوک ده چې قرآن خپله زده کړي او نورو ته یې ور زده کړي.

۳ - عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ : رَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ الْقُرْآنَ، فَهُوَ يَتْلُوهُ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ، وَرَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ مَالًا، فَهُوَ يُنْفِقُهُ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ.[2]

ژباړه : له عبد الله زوی د عمر (فاروق) رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا څخه روایت ده، چې نبي ﷺ ویلي : (غوره) غبطه نشته مګر په دوو خویونو کې ده؛ یو هغه سړی ده (یعنې : د هغه سړي خوی ده) چې الله عَزَّوَجَلَّ

[1] صحيح البخاري؛ د حديث ګڼه : (۵۰۲۷).

[2] صحيح البخاري؛ د حديث ګڼه : (۷۵۲۹) صحيح مسلم؛ د حديث ګڼه : (۸۱۵).

ورته قرآن ورکړی وي، او دی ورباندې شپه او ورځ (په عبادت) اودربږي؛ او هغه سړی ده (يعنې : د هغه سړي خوی ده) چې الله عَزَّوَجَلَّ ورته مال ورکړی وي، او دی يې شپه او ورځ (په حق کې) لګوي.

**غبطه :** امام نووي رحمه الله ويلي (ژباړه) : ژبپوهان وايي : (غبطه) داده : چې يو څوک ارمان وکړي د اکر «حال» د هغه چا چې دی يې غواړي پرته له دې څخه چې دغه اکر له هغه څخه لري کېدل وغواړي.[1]

**۴** - عَنْ أَبِي مُوسَى ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : الْمُؤْمِنُ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ، وَيَعْمَلُ بِهِ كَالْأُتْرُجَّةِ طَعْمُهَا طَيِّبٌ، وَرِيحُهَا طَيِّبٌ، وَالْمُؤْمِنُ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ، وَيَعْمَلُ بِهِ كَالتَّمْرَةِ طَعْمُهَا طَيِّبٌ، وَلَا رِيحَ لَهَا، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَالرَّيْحَانَةِ رِيحُهَا طَيِّبٌ، وَطَعْمُهَا مُرٌّ، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَالْحَنْظَلَةِ طَعْمُهَا مُرٌّ - أَوْ خَبِيثٌ - وَرِيحُهَا مُرٌّ.[2]

ژباړه : له ابو موسی رضي الله عنه څخه روايت ده، چې نبي صلی الله علیه وسلم ويلي : هغه مؤمن چې قرآن لولي، او عمل ورباندې کوي لکه (ميوه د) سيټروس داسې ده چې خوند يې ښه ده، او بوی يې ښه دي؛ او هغه مؤمن چې قرآن نه لولي، او عمل ورباندې کوي لکه خرما داسې ده چې خوند يې ښه ده او بوی نه لري؛ او بېلګه د هغه منافق (په قرآن عمل نه کوونکي) چې قرآن لولي لکه (بوټی د) کشمالې داسې ده چې بوی يې ښه ده او خوند نلري، او بېلګه د هغه منافق (په قرآن عمل نه کوونکي) چې قرآن نه لولي لکه د حنظل (يو تریخ بوټي) داسې ده چې خوند يې بد ده، او بوی يې بد ده.

**۵** - عَنْ عَائِشَةَ ، قَالَتْ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : الْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ، وَالَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ، وَيَتَتَعْتَعُ فِيهِ، وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌّ لَهُ أَجْرَانِ.[3]

ژباړه : له عائشې رضي الله عنها څخه روايت ده، وايي : رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي : په قرآن پوهه لرونکی به له

---

[1] شرح صحيح مسلم د حديث ګڼه (هغه حديث چې دغه مانا يې د هغه په شرح کې کړي) : (۱۴۸۰).

[2] صحيح البخاري؛ د حديث ګڼه : (۵۰۵۹) صحيح مسلم؛ د حديث ګڼه : (۷۹۷).

[3] صحيح مسلم؛ د حديث ګڼه : (۷۹۸).

عزتمندو ملائکو سره وي، او هغه څوک چې قرآن لولي او ژبه يې پکې بنديږي، پداسې اکر کې چې لوستل وربانديې بوج « ورته کران » هم وي د هغه لپاره دوه اجرونه دي.

۶ - عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " اقْرَأْ عَلَيَّ ". قَالَ : قُلْتُ : أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ ؟ قَالَ : " إِنِّي أَشْتَهِي أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي ". قَالَ : فَقَرَأْتُ النِّسَاءَ حَتَّى إِذَا بَلَغْتُ : { فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا } قَالَ لِي : "كُفَّ ". أَوْ : " أَمْسِكْ ". فَرَأَيْتُ عَيْنَيْهِ تَذْرِفَانِ.[1]

ژباړه : له عبد الله (زوی دمسعود) ﷺ څخه روايت ده، وايي : رسول الله ﷺ (راته) وويل : (قرآن) را باندې ولوله. (عبد الله) وايي : ما وويل : زه يې په تا ولولم؟! او حال دا چې (قرآن) په تا نازل شوی. (رسول الله ﷺ) وويل : زه غواړم (خوښوم) چې (قرآن) له بل څخه واورم. (عبد الله) وايي ما (سورة النساء) وربانديې ولوستله تر دې چې ورسېدم (ژباړه) : (نو څه حال به وي چې کله موږ راولو له هر ډلې « امت » څخه کواه، او تا به په دې ډلې « امت »کواه راولو) ته، (رسول الله ﷺ) راته وويل : بس ده. نو ما يې سترکې وليدې چې اوښکې يې بهولې.

د قرآن پاک نور هم ډېر ثوابونه « بدلې » او فضيلتونه دي، او د ځينو سورتونو او آيتونو په اړه ځانکړې نبوي ملغلرې هم شتون لري؛

البته! په ټولو نبوي حديثونو (يعني : هغه خبرې او چارې چې نبي ﷺ ته منسوب شوي وي) کې لمړی بايد څېړنه ترسره شي چې آيا دا له نبي ﷺ څخه کره او ټينګ ثبوت لري او که نه؟

خو! (صحيح البخاري) او (صحيح مسلم) دواړه هغه مبارک کتابونه دي چې ټول حديثونه يې له رسول الله ﷺ څخه کره او ټينګ ثبوت لري.

---

[1] صحيح البخاري؛ د حديث کڼه : (۵۰۵۵) صحيح مسلم؛ د حديث کڼه : (۸۰۶).



Islam Online Academy +93796153513

## د قرآن پاک د لوستلو آداب:

۱ ـ اودس کول، او خوله پاکول (په ځانګړي توګه په مسواک سره).

عَنِ الْمُهَاجِرِ بْنِ قُنْفُذٍ ، أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَبُولُ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ حَتَّى تَوَضَّأَ، ثُمَّ اعْتَذَرَ إِلَيْهِ فَقَالَ : إِنِّي كَرِهْتُ أَنْ أَذْكُرَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا عَلَى طُهْرٍ. أَوْ قَالَ : عَلَى طَهَارَةٍ.[1]

ژباړه : له مهاجر زوی د قنفذ رضي الله عنه څخه روایت ده، چې دی نبي ﷺ ته راغی، او هغه بولي «متیازي» کولي، نو ده سلامورباندې واچول، او هغه جواب ورنکړ تر دې چې اودس یې وکړ، بیا یې له هغه څخه ښښنه وغوښته او و یې ویل : ما بده و بلله چې الله عزوجل یاد کړم مګر چې زه په اوداسه یم.

۲ ـ د قرآن پاک د لوستلو په پیل کې (أعوذ بالله من الشیطن الرجیم) ویل.

الله عزوجل فرمایلي : ﴿فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ۝٩٨﴾ [النحل]

ژباړه : نو کله چې قرآن لولې پناهې غواړه په الله عزوجل له شیطان رټل شوي څخه.

۳ ـ غږ ښایسته کول د قرآن پاک په لوستلو سره.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَتَغَنَّ بِالْقُرْآنِ ".[2]

ژباړه : له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت ده، وایي : رسول الله ﷺ ویلي : څوک چې په قرآن خپل غږ ښایسته نکړي نو هغه له موږ څخه نده. او علماءو ددې حدیث نورې ماناګانې هم کړي دي.

۴ ـ په کراره کراره او ښکاره توګه سره قرآن لوستل؛ په توله کې په تجوید سره لوستل.

---

[1] سنن أبي داود د حدیث ګڼه : (۱۷)؛ د حدیث سند حسن ده او مانا یې په نورو صحیحو حدیثونو کې هم راغلې.

[2] صحیح البخاري؛ د حدیث ګڼه : (۷۵۲۷).

الله عَزَّوَجَلَّ فرمايلي : ﴿ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا ﴾ [المزمل] ژباړه : په کراره او ښکاره توګه سره قرآن لوله.

عَنْ حَفْصَةَ ، أَنَّهَا قَالَتْ : مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى فِي سُبْحَتِهِ قَاعِدًا حَتَّى كَانَ قَبْلَ وَفَاتِهِ بِعَامٍ. فَكَانَ يُصَلِّي فِي سُبْحَتِهِ قَاعِدًا. وَكَانَ يَقْرَأُ بِالسُّورَةِ، فَيُرَتِّلُهَا حَتَّى تَكُونَ أَطْوَلَ مِنْ أَطْوَلَ مِنْهَا.[1]

ژباړه : له حفصې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا څخه روایت ده، بېشکه هغې ویلي : ما نده لیدلی رسول الله ﷺ چې په ناسته یې نفل لمونځ کړی وي، تر دې چې له مړ کېدلو یو کال مخکې وه، نو بیا به یې په ناسته نفل لمونځ کول. او هغه چې به کله یو سورت ویل هغه به یې دومره په کراره ویل چې له هغه غټ (سورت) څخه به غټ شو.

۵ ـ په ژړا سره قرآن لوستل. الله عَزَّوَجَلَّ فرمايلي :

﴿قُلْ آمِنُوا بِهِ أَوْ لَا تُؤْمِنُوا إِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهِ إِذَا يُتْلَى عَلَيْهِمْ يَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ سُجَّدًا ﴿١٠٧﴾ وَيَقُولُونَ سُبْحَانَ رَبِّنَا إِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُولًا ﴿١٠٨﴾ وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا ﴿١٠٩﴾﴾ [الإسراء]

ژباړه : (اې پیغمبره! ﷺ دوی ته) ووایه ایمان راوړئ پدې (قرآن) او یا یې مه راوړئ؛ بېشکه هغه خلک چې پوهه ورکړی شوي مخکې له قرآن (را لېږلو) څخه کله چې پر دوی قرآن لوستل کېږي په زنو لوېږي پداسې حال کې چې سجده کوونکي وي (۱۰۷) او دوی وايي پاکې ده زموږ رب لره بېشکه زموږ د رب ژمنه ترسره کېدونکې ده (۱۰۸) او په زنو لوېږي ژاړي او (قرآن) دوی لره عاجزي ډېروي (۱۰۹).

عَن عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ : لَمْ أَعْقِلْ أَبَوَيَّ إِلَّا وَهُمَا يَدِينَانِ الدِّينَ، وَلَمْ يَمُرَّ عَلَيْنَا يَوْمٌ إِلَّا يَأْتِينَا فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَرَفَيِ النَّهَارِ بُكْرَةً وَعَشِيَّةً، ثُمَّ بَدَا لِأَبِي بَكْرٍ، فَابْتَنَى مَسْجِدًا بِفِنَاءِ دَارِهِ، فَكَانَ يُصَلِّي فِيهِ وَيَقْرَأُ الْقُرْآنَ، فَيَقِفُ عَلَيْهِ نِسَاءُ الْمُشْرِكِينَ وَأَبْنَاؤُهُمْ، يَعْجَبُونَ مِنْهُ وَيَنْظُرُونَ إِلَيْهِ، وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ رَجُلًا بَكَّاءً لَا يَمْلِكُ عَيْنَيْهِ إِذَا قَرَأَ الْقُرْآنَ، فَأَفْزَعَ ذَلِكَ أَشْرَافَ قُرَيْشٍ مِنَ

[1] صحيح مسلم؛ د حديث ګڼه : (۷۳۳)

الْمُشْرِكِينَ.[1]

ژباړه : له عروه زوی د زبیر رضي الله عنهما څخه روایت ده، چې ښځکه عائشې رضي الله عنها ښځې د نبي ﷺ وویل : ما ندي پیژندلي خپل مور او پلار مګر هغوی په دین باندې روان و، او په موږ یوه ورځ هم نده تېره شوې مګر رسول الله ﷺ به پکې موږ ته راتلو د ورځې په دواړو اړخونو کې : سهار او مابنام، بیا زما پلار ته (ښه) ښکاره شوه نو یو جومات (مسجد) یې د خپل کور په مخې کې جوړ کړو، نو ده به په هغه کې لمونځ کول او قرآن به یې ویل، او د مشرکانو ماشومان او ښځې به ورته ولاړ وه، ورته کتل به یې، او له ده څخه به یې تعجب کول، او ابوبکر (د عائشې پلار) یو ډېر ژړېدونکی سړی وه خپلې سترګې به یې په واک کې نه وې چې کله به یې قرآن لوستلو، نو دې کار د مشرکینو مشران و وېرول.

**۶ -** په هر آیت باندې اودرېدل (وقف کول).

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ ، أَنَّهَا ذَكَرَتْ - أَوْ كَلِمَةً غَيْرَهَا - قِرَاءَةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : { بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ } { الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ } { الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ } مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ، يُقَطِّعُ قِرَاءَتَهُ آيَةً آيَةً.[2]

ژباړه : د سلمه له مور (د نبي ﷺ ښځې) رضي الله عنها څخه روایت ده، چې د رسول الله ﷺ لوستل یې یاد کړو : { بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ } { الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ } { الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ } { مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ }، لوستل به یې په آیت  آیت سره بېلول.

۷ ـ له دریو ورځو څخه په کمه موده کې تر پایه قرآن پاک نه لوستل.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ :" صُمْ مِنَ الشَّهْرِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ". قَالَ : أُطِيقُ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ. فَمَا زَالَ حَتَّى قَالَ : " صُمْ يَوْمًا وَأَفْطِرْ يَوْمًا ". فَقَالَ :" اقْرَأِ الْقُرْآنَ فِي كُلِّ شَهْرٍ".

---

[1] صحیح البخاري؛ د حدیث ګڼه : (۴۷۶)

[2] سنن أبي داود؛ د حدیث ګڼه : (۴۰۰۱) مسند أحمد؛ د حدیث ګڼه : (۲۶۴۷۰)، او امام دارقطني صحیح بللی (سننه : ۱۱۹۱).

قَالَ : إِنِّي أُطِيقُ أَكْثَرَ. فَمَا زَالَ حَتَّى قَالَ : " فِي ثَلَاثٍ ".[1]

ژباړه : له عبد الله زوی د عمرو رَضِيَٱللَّهُعَنْهُمَا څخه روايت دہ، چې نبي ﷺ وويل : له هرې مياشتې څخه درې ورځې روژه نيسه، (عبد الله) وويل : زه له دې څخه زيات توان لرم، (زما له نبي ﷺ د زياتولو غوښتنه وه) تر هغو چې و يې وويل : يوه ورځ روژه نيسه او يوه ورځ يې مه نيسه. بيا يې وويل : په هره مياشت کې يو ځل قرآن (تر پايه) وايه، (عبد الله) وويل : زه له دې څخه زيات توان لرم، (زما له نبي ﷺ د زياتولو غوښتنه وه) تر هغو چې و يې وويل : په درېيو ورځو کې (قرآن تر پايه وايه).

۸ ـ په برابر غږ (چې نه ډېر لوړ او نه ډېر ټيټ وي) قرآن لوستل.

الله عَزَّوَجَلَّ فرمايلي : ﴿قُلِ ادْعُوا اللَّهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمَٰنَ أَيًّا مَا تَدْعُوا فَلَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ۝١١٠﴾ [الإسراء]

ژباړه : (اې پېغمبره! ﷺ دوی) ته ووايه را وبلئ (خپل رب په نوم د) الله يا رحمن (په) هر يو (نوم چې يې) را بلئ د هغه لپاره ښايسته نومونه دي، او غږ دې په خپل لمانځه مه لوړوه مه يې ټيټوه بلکې ددې په مېنځ کې لاره ولټوه.

۹ ـ په يو او بل غږ نه لوړول د قرآن لوستلو په وخت کې.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ ، قَالَ : اعْتَكَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ، فَاتُّخِذَ لَهُ فِيهِ بَيْتٌ مِنْ سَعَفٍ، قَالَ : فَأَخْرَجَ رَأْسَهُ ذَاتَ يَوْمٍ، فَقَالَ : " إِنَّ الْمُصَلِّيَ يُنَاجِي رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ، فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ بِمَا يُنَاجِي رَبَّهُ، وَلَا يَجْهَرْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ بِالْقِرَاءَةِ ".[2]

ژباړه : له (عبد الله) زوی د عمر (فاروق) رَضِيَٱللَّهُعَنْهُمَا څخه روايت دہ، وايي : رسول الله ﷺ اعتکاف وکړ په لسو اخېرنو (شپو) کې له (مياشتې د) رمضان څخه، نو ځان ته يې يو کور «کوټه» ونيوله له خاښونو

[1] صحيح البخاري؛ د حديث ګڼه : (١٩٧٨)

[2] مسند أحمد؛ د حديث ګڼه : (٥٣٤٩)؛ د حديث سند حسن دہ.

د خرما د ونې څخه، (زوی د عمر) وايي : نو يوه ورځ يې سر را و وېستل، او و يې ويل : بېشکه لمونځ کوونکی له خپل رب سره خبرې کوي، نو يو تن دې په تاسو کې وګورې چې په کومو خبرو له الله عَزَّوَجَلَّ سره خبرې کوي، او ځينې ستاسو دې په ځينو نورو غږ نه لوړوي په لوستلو کې.

١٠ ـ کله چې قرآن لوستل کېږي غوږ نېول، خبرې نه کول او ارام په درناوي کېناستل.

الله عَزَّوَجَلَّ فرمايلي : ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴿٢٠٤﴾﴾ [الأعراف]

ژباړه : او کله چې قرآن لوستل کېږي نو غوږ ورته ونېسئ، او چپ شئ ددې لپاره چې مهرباني درباندې وشي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ : فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَاهُ جِبْرِيلُ اسْتَمَعَ، فَإِذَا انْطَلَقَ جِبْرِيلُ قَرَأَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا أَقْرَأَهُ.[1] (مختصر)

ژباړه : له (عبد الله) زوی د عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا څخه روايت ده، وايي : رسول الله ﷺ وه چې کله به جبريل راغی (په وحې سره) غوږ به يې (ورته) و نيو، چې کله به جبريل عَلَيْهِ السَّلَام لاړو نبي ﷺ به ووېل (هغه څه چې جبريل عَلَيْهِ السَّلَام به راوړي وه) هغه شان چې (جبريل عَلَيْهِ السَّلَام به) ورته ويلې وه.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ : وَكَانَ إِذَا أَتَاهُ جِبْرِيلُ أَطْرَقَ ، فَإِذَا ذَهَبَ قَرَأَهُ كَمَا وَعَدَهُ اللَّهُ.[2] (مختصر)

ژباړه : له (عبد الله) زوی د عباس څخه روايت ده، وايې : (رسول الله ﷺ) وه چې جبريل عَلَيْهِ السَّلَام به کله ورته راغی لېد « نظر » به يې کته واچول، چې کله به (جبريل عَلَيْهِ السَّلَام) لاړ لوستل به يې (هغه څه چې جبريل به راوړي وه) لکه څنګه چې الله عَزَّوَجَلَّ ورسره ژمنه کړې وه.

١٢ ـ سجده کول د هغه آيت د تلاوت پر مهال چې د سجدې آيت وي.

---

1 صحيح مسلم؛ د حديث ګڼه : (۴۴۸)

2 صحيح البخاري؛ د حديث ګڼه : (۵۰۴۴)



Islam Online Academy 93796153513

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ السَّجْدَةَ وَنَحْنُ عِنْدَهُ فَيَسْجُدُ وَنَسْجُدُ مَعَهُ، فَنَزْدَحِمُ حَتَّى مَا يَجِدُ أَحَدُنَا لِجَبْهَتِهِ مَوْضِعًا يَسْجُدُ عَلَيْهِ.[1]

ژباړه : له (عبد الله) زوی د عمر (فاروق) رضي الله عنهما څخه روایت ده، وایي : نبي ﷺ چې به کله سجده وویله (یعني : آیت دسجدې) او موږ به ورسره وه، نو سجده به یې کوله او موږ به هم سجده ورسره کوله، او موږ به دومره ګڼ شوو چې ځای به نه موندل یو (تن) له موږ څخه د خپل تندي لپاره چې سجده ورباندې وکړي.

۱۱ ـ قرآن ته ژمن پاتې کېدل او وخت په وخت را یادول.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " بِئْسَ مَا لِأَحَدِهِمْ أَنْ يَقُولَ : نَسِيتُ آيَةَ كَيْتَ وَكَيْتَ . بَلْ نُسِّيَ، وَاسْتَذْكِرُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنْ صُدُورِ الرِّجَالِ مِنَ النَّعَمِ ".[2]

ژباړه : له عبد الله (زوی د مسعود) رضي الله عنه څخه روایت ده، وایي : نبي ﷺ ویلې : ډېره بده ده ستاسو د یو تن لپاره چې داسې ووایي : ما فلانکی او فلانکی ایت هېر کړو، بلکې (و دې وایې) هېر شو، او قرآن را یادوئ ځکه قرآن ډېر خلاصیدونکی ده د خلکو له سینو څخه له اوښانو نه.

**اړینه خبره :**

**۱.** هر وخت د قرآن پاک دپیل پر مهال (بسم الله ....) ویل شریعت اسلامي کې ندې ضرور شوي؛ نو که و نه ویل شي ښه ده.

**۲.** د قرآن لوستنې « تلاوت » په اخېر کې (صدق الله العظیم) ویل شریعت اسلامي کې ندي راغلي؛ نو ویل یې عبادت نده.

---

[1] صحیح البخاري؛ د حدیث ګڼه : (۱۰۷۶) صحیح مسلم؛ د حدیث ګڼه : (۵۷۵)

[2] صحیح البخاري؛ د حدیث ګڼه : (۵۰۳۲) صحیح مسلم؛ د حدیث ګڼه : (۷۹۰)

# د عربي ژبې بنيادي توري:

د عربي ژبې بنيادي توري (۲۹) دي،[1] او ځينې عربي ژبپوهان وايي : (۲۸) دي.[2]

لامل د اختلاف دادی : چې ځوک همزه او الف بېل بېل توري ګڼي نو (۲۹) توري جوړېږي، او ځوک چې همزه او الف يو حرف ګڼي نو (۲۸) حروف جوړېږي.[3]

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ا الف | ب با | ت تا | ث ثا | ج جيم | ح حا | خ خا |
| د دآل | ذ ذآل | ر را | ز زا | س سيّن | ش شيّن | ص صآد |
| ض ضآد | ط طا | ظ ظا | ع عيّن | غ غيّن | ف فا | ق قآف |
| ک کاف | ل لآم | م ميّم | ن نـوّن | و وآو | ء همزه | ه ها |
| | | | ي يا | | | |

**پاملرنه :** د عربي ژبې د تورو لیکل شوي نومونه د (نوراني قاعدې) سره موافق لیکل شوي،

او د عربي ژبپوهان له دې څخه په توپير لرونکو نورو نومونو سره دغه توري نومولي.

---

1 دا ددې ژبپوهانو په اند : (۱) سيبويه. (۲) خليل الفراهيدي. (۳) ابن عصفور. (۴) ابو عمرو الداني. او داسې نور ژبپوهان.

2 يو له هغو څخه امام مبرد دی، په خپل کتاب (المقتضب) مخ، توک : ۱/۱۹۲ چاپ : عالم الكتب – بيروت کې همداسې وايي.

3 همزه : ۱: حرکت او سکون مني. ۲: د کلمې په هره برخه کې راځي. ۳: په بېل بېل شکل ليکل کېږي؛ او الف داسې نده.

Islam Online Academy +93796153513

## اړيني پيژندني:

حرکت : زور «فتحه»، زېر «کسره»، پېښ «ضمه» ته وايي؛ نښې يې دا دي : ◌َ◌ِ◌ُ

د حرکت جوړښت : له يو (الف) څخه دوه زوره، له يوې (يا) څخه دوه زېره، او له يو (واو) څخه دوه پېښه جوړېږي. **نو!** ( ◌َ × ۲ = الف) ( ◌ِ × ۲ = يا) ( ◌ُ × ۲ = واو)

ددې توړو نومونه : هغه توری چې حرکت ولري (متحرک) بلل کېږي، چې زور «فتحه» ولري (مفتوح) ، چې زېر «کسره» ولري (مکسور) بلل کېږي ، چې «ضمه» پېښ ولري (مضموم) بلل کېږي.

ددې توړو د ويلو تکلاره : زور په خلاصولو د خولې او د غږ سره، او زېر په کته لېواله کولو د خولې او د غږ سره، او پېښ په را ټولولو د شونډو سره ويل کېږي؛

او دا بايد ژر ژر وويل شي پرته له اوږدوالي او غږ تښتوني ځکه پدې سره ځرګنده او غټه تېروتنه رامنځ ته کېږي.

لکه : ﴿وَعَدَ﴾ ﴿بِهِ﴾ ﴿رُسُلُ﴾

يو بل ډول د زور، زېر، پېښ : ◌ٰ : ولاړ زور، ◌ٖ : ولاړ زېر، ◌ٗ : سر چپه پېښ.

او په عربي چاپ کې : ددې په ځای : له زور سره ولاړ زور ليکل کېږي؛ لکه : ﴿سُلْطَٰنًا﴾، له زېر سره کوچنی (يا) ليکل کېږي؛ لکه : ﴿بِهِۦ﴾، او له پېښ سره کوچنی (واو) ليکل کېږي؛ لکه : ﴿حَقَّهُۥ﴾.

ددې ډول زور، زېر، پېښ له مخکني ډول سره دوه (۲) توپيره دي :

۱: په ليکلو کې ښکاره ده. ۲: په ويلو کې دا دويم ډول اوږده ويل کېږي.

سکون : (غړوندی،زورکی) نښتوالي د حرکت ته وايي؛ نښې يې دا دي : ْ ۡ

ددې توري نوم : هغه توری چې غړوندی «سکون» ولري (ساکن) بلل کېږي.

لکه : ﴿تَحۡزَنۡ﴾ ﴿بِهِمۡ﴾ ﴿أَخَاهُمۡ﴾

تنوين : دوه زوره، دوه زېره، دوه پېښه ته ويل کېږي؛ نښې يې دا دي : ً ٍ ٌ

د تنوين جوړښت : **د** دوو زورونو : ( َ + نْ = ً)، د دوو زېرونو : ( ِ + نْ = ٍ)، د دوو پېښونو :

( ُ + نْ = ٌ).

ددې توري نوم : هغه توری چې تنوين ولري (منون) بلل کېږي.

لکه : ﴿حَاصِبٗا﴾ ﴿عِلۡمٖ﴾ ﴿خَيۡرٞ﴾

شد : ّ دغې نښې ته ويل کېږي.

ددې توري نوم : هغه توری چې شد ولري (مشدد) بلل کېږي.

د شد جوړښت : له يو غړوندي «سکون» او يو زور، يا زېر، يا پېښ څخه شد جوړېږي؛

هغه وخت چې دا ساکن « غړوندی لرونکی » توری په هغه زور، يا زېر، يا پېښ لرونکي توري کې

دننه «مدغم» شي نو دا دوهم توری مشدد کېږي؛ نو د (مشدد توري) دوه غږه دي، او په زور ويل کېږي.

لکه : ﴿رَبِّ﴾

مد : ٓ دغې نښې ته ويل کېږي.

ددې توري نوم : هغه توری چې مد ولري (ممدود) بلل کېږي.

لکه : ﴿الٓمٓ﴾﴿سَوَآءٌ﴾.



Islam Online Academy +93796153513

# مخارجو ته لنډه کتنه:

### ۱ : د مخارجو پېژندنه :

په عربي ژبه «لغت» کې : (مخارج) جمع د (مخرج) ده، ځای د وتلو ته ویل کېږي.[1]

په تجوید پوهنه «علمِ التجوید» کې : هغه ځای د وتلو د توري «حرف» ته چې بېلېږي په دغه توري سره له بل ځای څخه دېته مخرج وايي.[2]

### ۲ : د مخارجو ډولونه :

۱ : محقق او ثابت : هغه چې معلومه برخه له برخو د ستوني، یا ژبې او یا شونډو څخه ولري. دا ډول مخارج (۱۵) دي؛ د خپرې «مشهوري» وینا «قول» په بنیاد.

۲ : مقدر او فرض کړی شوي : چې معلومه برخه له برخو د ستوني، یا ژبې او یا شونډو څخه ونلري. دا ډول مخارج (۲) دي.

### ۳ : د مخارجو نور ډولونه :

۱ : بنیادي، عام او کلي مخارج، او هغه (۵) ډوله دي : (۱) دوه شونډې. (۲) ژبه. (۳) د خولې تش ځای «جوف الفم». (۴) د پوزې ښخ «خیشوم». (۵) ستونی.

۲ : د هر توري لپاره ځانګړی، جزئي مخرج ؛

که غواړې چې د یو توري مخرج و پېژنې؟ نو یو توري ته حرکت ورکړه، او هغه توري ته (چې مخرج پېژندل یې غواړې) سکون «غږوندی» ورکړه او یو ځای یې ووایه !.

Islam Online Academy

---

1 (الصحاح) د امام جوهري.

2 (القول السدید في علم التجوید) مخ : (۱۳۹).

## ۴ : روښانوونکي انځورونه :







له ژبې څخه مخ او شا دواړه کارېږي.




### د (۳۲) غاښونو نومونه په عربي ژبه کې




(۱۶) غاښونه پورته او (۱۶) لاندې دي.

## مخارجو ته بشپړه کتنه:

لومړی مخرج : د پوزې بېخ «خیشوم» :

له دې څخه د (غنې) توري ویل کېږي؛ د غنې توري دوه دي :



### ١ : نون مشدد، ٢ : میم مشدد.

لکه : ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ﴾ ﴿وَمِمَّا﴾.

دویم مخرج : د خولې تش ځای «جوف الفم» :

له دې څخه د مد توري ویل کېږي؛ د مد توري درې دي :



### ١: (الف) مخکې زور،

الف همېشه ساکن وي، او مخکې ور څخه پرته له زوره بل حرکت نشي راتلای.



### ٢ : (یا) ساکنه مخکې زیر،



# ۳ : (واو) ساکن مخکې پېښن.

ددې تورو جمله : (وای) جوړېږي.

لکه : ﴿عَذَابٌ﴾ ﴿عَظِيْمٌ﴾ ﴿كَانُوْا﴾.



دريم مخرج : د ستوني وروستنۍ برخه : له دې څخه

## (همزه، ها) ويل کېږي.

لکه : ﴿هُدًى﴾ ﴿أُوْلَـٰٓئِكَ﴾.



څلورم مخرج : د ستوني مېنځنۍ برخه : له دې څخه

## (عين،

حا ) ویل کیږي.



لکه : ﴿مُفۡلِحُونَ﴾ ﴿عَلَيۡهِمۡ﴾.

پنځم مخرج : د ستوني نږدې برخه : له دې څخه



(غین،



خا ) ویل کیږي.

لکه : ﴿بِٱلۡغَيۡبِ﴾ ﴿يُخَٰدِعُونَ﴾.

نو! د ستوني له درې واړو برخو څخه يوازې د ستوني توري « حروف حلقي » ويل کېږي، چې هغه دادې : ( همزه، ها، عين، حا، غين، خا ).

شپږم مخرج : له ستوني څخه د خولې خوا ته د هغې وړې ژبې مخرج ده، دېته (مخرج اللهاة) وايي.



له دې څخه

**(قاف)** ويل کېږي؛

چې د ستوني د ژبې سره نښتې برخې تالو سره د ژبې وروستنۍ برخه ولګېږي. لکه : ﴿يُوقِنُونَ﴾.

اووم مخرج : د (قاف) له مخرج سره نږدې ده :



له دې څخه

**(کاف)**

ويل کېږي؛ چې د ستوني د ژبې څخه لږ د خولې خواته تالو سره د ژبې وروستنۍ برخه ولګېږي.

لکه : ﴿إِلَيْكَ﴾.

اتم مخرج : د ژبې مېنځ : له دې څخه

(جيم ،



شين ،



يا (غير مده ) ويل كيږي؛



چې كله د ژبې مېنځ له پورته تالو سره ولګېږي.

لكه : ﴿يَرْجِعُونَ﴾ ﴿مَشَوْا﴾ ﴿يَمُدّ﴾.

Academy +93796153513

نهم مخرج : د ژبې څنډه له پورتنې اضراسو سره. له دې څخه





## (ضاد) ویل کېږي؛

چې د ژبې د څنډې وروستنی او نږدې برخه د پورتنې اضراسو (غاښونو) له بېخ سره ولګېږي، که ښــی خوا وي که چپه مګر چپه خوا اسانه او غوره ده. دې توري ته (أصعب الحروف) او (حرف العربية) ویل کېږي.

لکه : ﴿مَّرَضٌ﴾.

لسم مخرج : د ژبې غاړه. له دې څخه



## (لام) ویل کېږي؛

چې د ژبې غاړه او لږ برخه د ژبې د څنډې (یعني : نږدې برخې) څخه د پورتنې ثنایا، رباعیات، انیاب او ضواحکو (غاښونو) له وریو نه لږ پورته د تالو له ښــی یا چپې خوا سره ولګېږي.

لکه : ﴿ذَٰلِكَ﴾.

یوولسم مخرج : د ژبې غاړه. له دې څخه



## (نون) ویل کېږي؛

Islam Online Academy +93796153513

چې د ژبې غاړه له پورتنې ثنایا، رباعیات او انیابو (غاښونو) سره ولګیږي.

لکه : ﴿یُؤۡمِنُونَ﴾.

دولسم مخرج : د ژبې غاړه او شا. له دې څخه



(را) ویل کیږي؛

چې د ژبې غاړه او لږ برخه له شا څخه د پورتنې ثنایا او رباعیاتو (غاښونو) له وریو سره ولګیږي.

لکه : ﴿رَيۡبَ﴾.

دیارلسم مخرج : د ژبې سر. له دې څخه



(طا،



دال ،تا ) ویل کیږي.

چې د ژبې سر د پورتنې ثنایا (غاښونو) له بېخونو سره ولګیږي.

لکه : ﴿طُغۡيَٰنِهِمۡ﴾ ﴿هُدٗى﴾ ﴿تُنذِرۡهُمۡ﴾.

ثوارلسم مخرج : د ژبې سر.  له دي څخه



(ظا،



ذال،ثا ) ویل کېږي.

چې د ژبې د غاړې سر د پورتني ثنايا (غاښونو) له غاړې او په (ثا، ذال) کې له سر سره ولګېږي.

لکه : ﴿أَظْلَمَ﴾ ﴿ذَٰلِكَ﴾ ﴿مِّثْلِهِۦ﴾.

پنځلسم مخرج : د ژبې سر. له دي څخه



(ص،



زا،سين) ویل کېږي.

چې د ژبې د غاړې سر د لاندني ثنايا (غاښونو) له څنډو سره ولګېږي او غږ به د پورته او لاندې ثنايا (غاښونو) تر مېنځ ووځي.

لکه : ﴿مُصۡلِحُونَ﴾ ﴿أُنزِلَ﴾ ﴿سَوَآءٌ﴾.



شپاړسم مخرج : د لاندې شونډې خېټه. له دې څخه

(فا) ویل کیږي.

چې د لاندې شونډې خېټه د پورتني ثنايا (غاښونو) له سر سره ولګېږي.

لکه : ﴿يُنفِقُونَ﴾.



اوولسم مخرج : دواړه شونډې. له دې څخه

(با ،



میم ،



واو (غیر مده) ) ویل کېږي.

د دواړو شونډو له لمدې برخې څخه (با) ویل کېږي،

او د دواړو شونډو له وچې برخې څخه (با) ویل کېږي،

او (واو) د دواړو شونډو له مینځ څخه ویل کېږي.

لکه : ﴿عَذَابٌ﴾ ﴿ءَامَنَ﴾ ﴿وَلَٰكِن﴾.

Islam Online Academy +93796153513

# صفاتو ته لنډه کتنه:

## ۱ : د صفاتو پېژندنه :

په عربي ژبه «لغت» کې : صفات جمع د صفت ده، هغه څيز ته وايي چې په بل يې تکيه او ولاړ وي.

په تجويد پوهنه «علم التجويد» کې : هغه اكر «حالت»، څرنګوالی «کيفيت » چې توري ته د هغه د ويلو پر مهال را پيښيږي صفت وايي.

## ۲ : د صفاتو ډولونه :




Islamic Online Academy +93706153513










**د تفخیم د صفت یو مهم ځای:** د (الله) له نوم څخه مخکې که زور، پېښ وي ډک ویل کېږي، او که زیر وي تش ویل کېږي.

خو ! دا چي زموږ موخه اسانه زده کړه ده، نو اسانه خبري به له دي څخه را واخلو، چي هغه ځيني صفات عارضه او احکام دي؛

او کوم چي صفات لازمه دي د هغو زده کړه اړينه ده مګر د ښووونکي له خولي څخه يې زده کړه نوي زده کوونکو ته اسانه او ګټوره ده له کتاب څخه په زده کولو.

## صفات عارضه او حکمونو ته کتنه:

١ : پېژندني :

ادغام : په عربي ژبه «لغت» کي : دننه کولو ته وايي.

په تجويد پوهنه «علم التجويد» کي : دننه کول د يو ساکن توري په بل متحرک توري کي په داسي شکل چي يو مشدد توری ور څخه جوړ شي، او ژبه (يا د بدن بل غړی) په يو وار، يو وخت ورڅخه پورته کېږي دېته ادغام وايي.







ادغام مثلين : چي دننه کېدونکی توری له هغه توري سره چي پکي دننه کېږي په مخرج او صفت کي يو وي. لکه : دوه (ياګاني)، دوه (تاګاني).

ادغام مثلين کبير : چي دننه کېدونکی توری مخکي له ادغام څخه ساکن «غږوندی لرونکی» وي.

Islam Online Academy +93796193513

ادغام مثلین صغیر : چې دننه کېدونکی توری مخکې له ادغام څخه ساکن «غږوندی لرونکی» نه وي.

ادغام متجانسین : چې دننه کېدونکی توری له هغه توري سره چې پکې دننه کېږي په مخرج کې یو وي او په صفت کې سره بېل بېل وي. لکه : (دال) او (تا).

ادغام متقاربین : چې دننه کېدونکی توری له هغه توري سره چې پکې دننه کېږي په مخرج او صفت، یا یوازې مخرج او یا یوازې صفت کې یو وي. لکه : (لام) او (را).

اظهار : په عربي ژبه «لغت» کې : ښکاره کولو او څرګندولو ته وايي.

په تجوید پوهنه «علم التجوید» کې : څرګندول د حقیقت د توري له خپل آري (اصلي) مخرج څخه په ویلو، خپل صفت ورکولو سره یې، او له غني نه په خالي کولو سره ته اظهار وايي.




[1]

[1] د اظهار ددې ډولونو د پېژندلو لپاره (۳۶،۳۳،۳۲) مخونه وګورئ.

قلب : په عربي ژبه «لغت» کې : یو څیز له خپلې مخې څخه اړولو ته وایي.

په تجوید پوهنه «علم التجوید» کې : یو تورى د بل توري په ځاى راوستل، سره له پاتې کېدو د غنې او اخفاء ته قلب وایي.

**پاملرنه :**

۱ : دغه حکم ته عام لیکوالان، ښوونکي او زده کوونکي (اقلاب) وایي؛ خو دغه اصطلاح ناسمه او د عربي ژبې له قانون څخه لرې ګڼل شوې.[1]

۲ : او د دغه حکم د پلې‌کېدو په اړه هم یو ناسم اند او نظر شته؛ هغه دا چې ددې توري د ویلو پر وخت به شونډې نه سره لګول کېږي بلکې دواړه شونډې به لږ سره لرې وي؛

خو! دا چې پدې ډول ویلو سره نرم او کرار میم نه ویل کېږي او د هغه په ځاى یو ناڅرګند تورى ویل کېږي دا اند ناسم بلل شوى.[2]

او سمه کړنلاره ددې حکم د پلې‌کېدو په اړه روسته راځي.[3]

اخفاء : په عربي ژبه «لغت» کې : پټولو ته وایي.

په تجوید پوهنه «علم التجوید» کې : د یو توري پداسې اکر «حالت» کې چې د اظهار او ادغام په مېنځ کې وي، له شد «تشدید» څخه خالي وي، او په اول توري کې له غنې سره ویلو ته اخفاء وایي.

---

[1] أحكام قراءة القرآن الكريم مخ : (۱۷۹) تعلیق.

[2] أحكام قراءة القرآن الكريم مخ : (۱۷۹،۱۸۰) تعلیق.

[3] مخ : (۳۳)

## ۲ : د نون ساکن او تنوین حکمونه :

د نون ساکن او تنوین لپاره په هغه وخت کې چې وروسته ور شخه نور د الفبې توري راځي څلور اکرونه دي، او د هر یو اکر لپاره ځانګړی حکم ده.

او دغه حکمونه ټول واجب او اړین دي.

### ۱ : [اظهار]

له نون ساکن او تنوین نه وروسته که یو توری له (همز، ها، عین، حا، غین، خا) څخه راشي نو اظهار کېږي؛ او دېته اظهار حلقي او حقیقي وايي.

کړنلاره د اظهار: چې نون ساکن او تنوین بېل څنګه چې ویل کېږي وویل شي او وروستنی توری بېل.

| | د نون ساکن بېلګې : | | د تنوین بېلګې : |
|---|---|---|---|
| همزه | ﴿يَٰٓـَٔادَمُ ٱسۡكُنۡ أَنتَ﴾ | همزه | ﴿عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ |
| ها | ﴿وَكُلَا مِنۡهَا﴾ | ها | ﴿شَفَا جُرُفٍ هَارٍ﴾ |
| عین | ﴿أَنۡعَمۡتَ﴾ | عین | ﴿سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ﴾ |
| حا | ﴿مَا تَنۡحِتُونَ﴾ | حا | ﴿رَغَدًا حَيۡثُ﴾ |
| غین | ﴿مِنۡ غَيۡرِكُمۡ﴾ | غین | ﴿قَوۡلًا غَيۡرَ ٱلَّذِى﴾ |
| خا | ﴿فَإِنۡ خِفۡتُمۡ﴾ | خا | ﴿قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ﴾ |

### ۲ : [ادغام]

له نون ساکن او تنوین نه وروسته که یو توری له (یا، را، میم، لام، واو ، نون؛ یعني : یرملون) څخه په بله کلمه راشي نو ادغام کېږي.

په (یا، میم، نون، واو؛ یعنې : یمنو) کې له غنې سره او په (لام، را؛ یعنې : لر) کې پرته له غنې نه.

**نو** ادغام دوه ډوله شو.

کړنلاره د ادغام : له نون ساکن نه وروسته چې (نون) راشي نو ساکن (نون) به پټې دننه شي، او که بل توری راشي نو له نون ساکن یا تنوین (چې دا هم په آر کې نون ساکن ده) څخه به هغه شان توری جوړ کړی شي او بیا به پټې دننه شي.

| د نون ساکن بېلګې : | | د تنوین بېلګې : | |
|---|---|---|---|
| یا | ﴿مَن يَقُولُ﴾ | یا | ﴿وَبَرْقٌ يَجْعَلُونَ﴾ |
| را | ﴿مِّن رَّبِّهِمْ﴾ | را | ﴿مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقًا﴾ |
| میم | ﴿مِن مَّسَدٍ﴾ | میم | ﴿عَلَىٰ هُدًى مِّن﴾ |
| لام | ﴿مِن لَّدُنكَ﴾ | لام | ﴿هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ﴾ |
| واو | ﴿مِن وَّلِيٍّ﴾ | واو | ﴿غِشَاوَةٌ ۖ وَلَهُمْ﴾ |
| نون | ﴿لَن نَّصْبِرَ﴾ | نون | ﴿حِطَّةٌ نَّغْفِرْ﴾ |

او له نون ساکن نه روسته که په یوه کلمه کې یو توری راغی له هغو تورو څخه چې یادونه یې وشوه نو د ادغام په ځای به اظهار کېږي او دېته اظهار مطلق وایي. لکه : ﴿قِنْوَانٌ﴾ ﴿صِنْوَانٍ﴾ ﴿الدُّنْيَا ۖ﴾.

۳ : [قلب]

له نون ساکن او تنوین نه وروسته که (با) راشي نو قلب کېږي.

کړنلاره د قلب : چې میم په اخفاء سره ووېل شي؛ داسې چې شونډې په نرمې او کرارې سره ولګېږي.

| د نون ساکن بېلګه : | | د تنوین بېلګه : | |
|---|---|---|---|
| نون | ﴿أَلِيمُۢ بِمَا كَانُواْ﴾ | نون | ﴿أَنۢبِـونِى﴾ |

۴ : [اخفاء]

له نون ساکن او تنوین نه وروسته که یو توری له (تا، ثا، جیم، دال، ذال، زا، سین، شین، صاد، ضاد، طا، ظا، فا، قاف، کاف) څخه راشي نو اخفاء کېږي.

کړنلاره د اخفاء : چې توری ټول پټ، یوازې صفت یې چې غنه ده وویل شي.

| د نون ساکن بېلګې : | | د تنوین بېلګې : | |
|---|---|---|---|
| تا | ﴿وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ﴾ | تا | ﴿جَنَّـٰتٍ تَجۡرِى﴾ |
| ثا | ﴿كَٱلۡأُنثَىٰ﴾ | ثا | ﴿أَزۡوَٰجًا ثَلَـٰثَةً﴾ |
| جیم | ﴿فَأَنجَيۡنَـٰكُمۡ﴾ | جیم | ﴿قَوۡمًا جَبَّارِينَ﴾ |
| دال | ﴿مِّن دُونِ ٱللَّهِ﴾ | دال | ﴿دَكًّا دَكًّا﴾ |
| ذال | ﴿ءَأَنذَرۡتَهُمۡ﴾ | ذال | ﴿ظِلٍّ ذِى ثَلَـٰثِ﴾ |
| زا | ﴿بِمَآ أُنزِلَ﴾ | زا | ﴿غُلَـٰمًا زَكِيًّا﴾ |
| سین | ﴿وَتَنسَوۡنَ﴾ | سین | ﴿قَوۡلًا سَدِيدًا﴾ |
| شین | ﴿مِن شَىۡءٍ﴾ | شین | ﴿عَذَابٌ شَدِيدٌ﴾ |
| صاد | ﴿يُنصَرُونَ﴾ | صاد | ﴿قَوۡمًا صَـٰلِحِينَ﴾ |
| ضاد | ﴿مِّن ضَعۡفٍ﴾ | ضاد | ﴿عَذَابًا ضِعۡفًا﴾ |
| طا | ﴿فَٱنطَلَقُواْ﴾ | طا | ﴿مَآءً طَهُورًا﴾ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ظا | ﴿تَنظُرُونَ﴾ | ظا | ﴿قَوۡمٍ ظَلَمُوٓاْ﴾ |
| فا | ﴿أَنفُسَهُمۡ﴾ | فا | ﴿خِزۡىٌ فِي﴾ |
| قاف | ﴿مِن قَبۡلِكُمۡ﴾ | قاف | ﴿بَقَرَةً قَالُوٓاْ﴾ |
| کاف | ﴿وَلَٰكِن كَانُوٓاْ﴾ | کاف | ﴿قَوۡمًا كَفَرُوا﴾ |

## ۳ : د میم ساکن حکمونه :

د میم ساکن لپاره په هغه وخت کې چې وروسته ور څخه نور د الفبې توري راځي درې اړکونه «حالتونه» دي، او د هر یو اړخ لپاره ځانګړی حکم دی.

او دغه حکمونه هم ټول واجب او اړین دي.

### ۱ : [اخفاء شفوي]

له میم ساکن نه وروسته که (با) راشي نو اخفاء شفوي کېږي.

کړنلاره د اخفاء شفوي : چې د (میم) توری نیمې وویل شي. ددې او د (قلب) په ویلو کې توپیر نه لیدل کېږي.

| | |
|---|---|
| د میم ساکن بېلګه چې وروسته یې (با) وي : | ﴿وَمَن يَعۡتَصِم بِٱللَّهِ﴾ |

### ۲ : [ادغام مثلین صغیر]

له میم ساکن نه وروسته که (میم) راشي نو ادغام مثلین صغیر کېږي.

کړنلاره د اخفاء شفوي : چې میم په میم کې دننه او سره له غني به وویل شي.

| | |
|---|---|
| د میم ساکن بېلګه چې وروسته یې (میم) وي : | ﴿أَم مَّن يَكُونُ﴾ |

Islam Online Academy +93796153513

## ۳ : [اظهار شفوي]

له میم ساکن نه وروسته که (همزه، تا، ثا، جیم، حا، خا، دال، ذال، را، زا، سین، شین، صاد، ضاد، طا، ظا، عین، غین، فا، قاف، کاف، لام، میم، نون، واو، یا) راشي نو اخفاء شفوي کېږي.

کړنلاره د اظهار شفوي : چې دغه میم بنکاره پرته له څخه غنې ویل کېږي.

| د میم ساکن بېلګې چې وروسته له (با، میم) څخه پرته دا نور توري راغلی وي : | | | |
|---|---|---|---|
| همزه | ﴿لَهُمۡ ءَامِنُواْ﴾ | ضاد | ﴿لَا يَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرًّا﴾ |
| تا | ﴿لَّمۡ تَفۡعَلُواْ﴾ | طا | ﴿لَكُمۡ طَالُوتَ﴾ |
| ثا | ﴿يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ﴾ | ظا | ﴿وَأَنتُمۡ ظَٰلِمُونَ﴾ |
| جیم | ﴿لَهُمۡ جَنَّٰتٍ﴾ | عین | ﴿لَهُمۡ عَذَابٌ﴾ |
| حا | ﴿أَعۡمَٰلَهُمۡ حَسَرَٰتٍ﴾ | غین | ﴿أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ﴾ |
| خا | ﴿ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٌ﴾ | فا | ﴿تَرَكَهُمۡ فِي﴾ |
| دال | ﴿بَعۡضَهُمۡ دَرَجَٰتٍۚ﴾ | قاف | ﴿عَلَيۡهِمۡ قَامُواْۚ﴾ |
| ذال | ﴿أَنفُسَكُمۡ ذَٰلِكُمۡ﴾ | کاف | ﴿مَثَلُهُمۡ كَمَثَلِ﴾ |
| را | ﴿جَآءَهُمۡ رَسُولٌ﴾ | لام | ﴿قِيلَ لَهُمۡ لَا﴾ |
| زا | ﴿فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٌ﴾ | نون | ﴿وَإِذۡ قَتَلۡتُمۡ نَفۡسًا﴾ |
| سین | ﴿يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ﴾ | ها | ﴿إِنَّهُمۡ هُمُ ٱلسُّفَهَآءُ﴾ |
| شین | ﴿وُجُوهَكُمۡ شَطۡرَهُۥ﴾ | واو | ﴿أَنفُسَهُمۡ وَمَا﴾ |
| صاد | ﴿كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ﴾ | یا | ﴿طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ﴾ |

## ۴ : د میم مشدد او نون مشدد حکمونه :

په هر میم او نون مشدد کې غنه زماني کېږي په اندازه د یو الف سره. بېلګه : ﴿وَمِمَّا﴾ ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ﴾

کړنلاره د غنې زماني : غږ به له خیشوم « د پوزې بېخ » څخه وویستل شي اوږدوالی به یې د یو الف د ویلو په اندازه وي.

## ۵ : د مد څېړنه :

مد : په عربي ژبه «لغت» کې : اوږدوالي ته وایي.

په تجوید پوهنه «علم التجوید» کې : په یو توري د مد، یا لین له تورو څخه غږ اوږدولو ته ویل کېږي.

د مد او لین توري :

د مد توري مخکې پېژندل شوي.[1] او ددې مخ په پای کې به یې هم یادونه وشي.

د لین توري دادي : ۱ : (واو) ساکن مخکې ورڅخه زور. ۲ : (یا) ساکنه مخکې ورڅخه زور.




مد اصلي : چې د مد د توري شتون پرته له ده څخه ناشونی وي، او نه په کوم سبب پورې تړاو لري او نه به وي؛ له هغه اسبابو څخه چې مد فرعي ورسره تړاو لري.[2] دېته مد **ذاتي** او **طبیعي** هم وایي.

او دا مد په (الف) مخکې زور، (یا) مخکې زېر، (واو) مخکې پېښ کې کېږي؛ یعنې : د مد په تورو کې.

---

[1] په (۱۷،۱۸) مخ کې.
[2] روسته راځي په (۴۰) مخ کې.

| د مد اصلي بېلګې : | |
|---|---|
| الف | ﴿لَا رَيۡبَ﴾ ﴿وَمِمَّا﴾ |
| يا | ﴿مُهۡتَدِينَ﴾ ﴿وَٱللَّهُ مُحِيطُۢ﴾ |
| واو | ﴿هُمۡ يُوقِنُونَ﴾ ﴿لَا يُؤۡمِنُونَ﴾ |

په مد اصلي پسې ترلي د مد نور ډولونه چې له يو او بل سره يې تړاو په حکم کې ده.




مد البدل : چې د مد له توري څخه مخکې همزه راغلي وي، او وروسته همزه او ساکن توری نه وي.

لکه : ﴿ءَامَنَ لِمُوسَىٰ﴾ ﴿إِيمَٰنُكُمۡ﴾ ﴿أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ﴾.

مد العوض : چې د کلمې په اخېر کې دوه زوره راغلي وي او وقف وربانديې و شي.

لکه : ﴿فَزَادَهُمُ ٱللَّهُ مَرَضٗاۖ﴾.

Islam Online

مد التمکین : چې دوه یاګانې او یا واوونه راشي او اولنۍ/ی یې مده وي.

لکه : ﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَمَا﴾ ﴿كَمَثَلِ ٱلَّذِى يَنْعِقُ﴾.

مد الصلة الصغری : چې (ها) د یوکړي، نارینه، دویم شخص ضمیر د دوه متحرکو تورو په منځ کې راشي او دویم توری همزه نه وي.

لکه : ﴿مَا حَوْلَهُۥ ذَهَبَ ٱللَّهُ﴾.

مد الصلة الکبری : چې (ها) د یوکړي، نارینه، دویم شخص ضمیر د دوه متحرکو تورو په منځ کې راشي او دویم توری همزه وي.

لکه : ﴿أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ﴾.






مد فرعي : چې د مد یا لین د توري له مخې همزه او وروسته همزه یا غږوندی «سکون» وي.

د مد فرعي سببونه : ۱ : همزه؛ که مخکې وي او که وروسته وي. ۲ : غږوندی «سکون»؛ چې روسته وي.

مد فرعي، متصل : چې د مد په توري پسې په یوه کلمه کې همزه راشي.

لکه : ﴿هُمُ ٱلسُّفَهَآءُ﴾ ﴿هَنِيٓـا مَّرِيٓـا﴾ ﴿لِيَسُـُٔواْ وُجُوهَكُمْ﴾.

مد فرعي، منفصل : چې د مد په توري پسې په بله کلمه کې همزه راشي.

لکه : ﴿وَمَآ أُنزِلَ﴾ ﴿قَالُوٓاْ ءَامَنَّا﴾ ﴿فِيٓ ءَاذَانِهِم﴾.

مد فرعي، عارض للسکون العارض : چې د مد، یا لین له توري څخه وروسته متحرک توری راشي او د وقف له امله هغه ساکن کړی شي ځکه په عربي کې په ساکن پیل نه کېږي او په متحرک وقف.

لکه : ﴿لِّلْمُتَّقِينَ۝٢﴾ ﴿يُوقِنُونَ۝٤﴾ ﴿وَلَا خَوْفٌ﴾ ﴿إِحْدَى ٱلْحُسْنَيَيْنِ﴾.

مد فرعي،لازم : چې د مد له توري څخه وروسته همېشنی ساکن توری (یعنې : د وقف له امله نه وي ساکن شوی) راشي په یوه کلمه کې؛ ځکه که په بله کلمه کې راشي نو بیا د مد توری غورځول کېږي.

مد فرعي، لازم، کلمي مثقل : چې د مد له توري څخه وروسته مشدد توری راشي په یوه کلمه کې.

لکه : ﴿مَا ٱلْحَآقَّةُ﴾ ﴿وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ﴾.

مد فرعي، لازم، کلمي مخفف : چې د مد له توري څخه وروسته ساکن توری راشي په یوه کلمه کې.

لکه : ﴿قَالُواْ ٱلْـَٰٔنَ﴾ ﴿ءَآلْـَٰٔنَ﴾.

مد فرعي، لازم، حرفي مثقل : چې د مد له توري څخه وروسته مشدد توری راشي په حروف مقطعه و کې.

لکه : ﴿الٓمٓ﴾ ﴿طسٓمٓ﴾.

مد فرعي، لازم، حرفي مخفف : چې د مد له توري څخه وروسته ساکن توری راشي په حروف مقطعه و کې.

لکه : ﴿قٓ﴾ ﴿صٓ﴾.

### د مدونو حکمونه :

په لنډه توګه د مدونو حکمونه (يعنې : چې مدونه څومره اوږده ويل کېږي) وړاندې کوو.

١: مد اصلي او هغه (پنځه ډولونه) چې ور پسې تړل شوي دوه (٢) حرکته اوږدېږي.

٢ : مد متصل څلور (٤) تر پنځه (٥) حرکته اوږدېږي.

٣ : مد منفصل څلور (٤) تر پنځه (٥) حرکته اوږدېږي، دوه (٢) حرکته هم راغلي.

٤ : مد لازم (په څلور (٤) واړه ډولونو سره) شپږ (٦) حرکته اوږدېږي.

٥ : مد عارض للسکون دوه (٢) تر (٦) حرکتونو پورې اوږدېږي.

د يو حرکت اندازه : چې يوه پرانستې ګوته بنده، يا يوه بنده ګوته پرانستل شي له تېزي، او کراري څخه پرته.

### ٦ : د وقف څېړنه :

د کلمې په اخېرني توري د اودرېدلو په اړه هم په تجويد او عربي ژبپوهنه کې ډېرې خبرې دي چې موږ ور څخه هغه ډېرې اړينې او اسانه خبرې دلته د ليکلو لپاره غوره کوو.[1]

د هرې کلمې اخېرنی توری به په يو اکر «حالت» کې له لاندې څلورو څخه راځي.

١ : که په اخېرني توري باندې (١) زور، (٢) زېر، (٣) پېښ، (٤) دوه زېره، (٥) دوه پېښه وه نو دغه توری به ساکن کېږي.

[1] ابن حاجب په خپل کتاب (الشافية في علمي الصرف والخط) مخ : (٢٣٧) تر (٢٥١) چاپ : المكتبة المكية کې بشپړه څېړنه ليکلې.



Islam Online Academy.com

| | بېلګې : | |
|---|---|---|
| | په روان اکر کې : | د اودرېدلو په اکر کې : |
| زور | ﴿لَا رَيۡبَ﴾ | ﴿لَا رَيۡبۡ﴾ |
| زير | ﴿بِٱلۡغَيۡبِ﴾ | ﴿بِٱلۡغَيۡبۡ﴾ |
| پېښ | ﴿وَنَحۡنُ نُسَبِّحُ﴾ | ﴿وَنَحۡنُ نُسَبِّحۡ﴾ |
| دوه زېره | ﴿أَوۡ كَصَيِّبٍ﴾ | ﴿أَوۡ كَصَيِّبۡ﴾ |
| دوه پېښه | ﴿وَلَهُمۡ عَذَابٌ﴾ | ﴿وَلَهُمۡ عَذَابۡ﴾ |

۲ : که په اخېرني توري باندې دوه زوره وي نو دويم زور (چې په آر کې نون ساکن ده) په الف بدلېږي.

| د دوه زورونو بېلګه : | |
|---|---|
| په روان اکر کې : | د اودرېدلو په اکر کې : |
| ﴿فَزَادَهُمُ ٱللَّهُ مَرَضًاۖ﴾ | ﴿فَزَادَهُمُ ٱللَّهُ مَرَضَاۖ﴾ |

۳ : که په اخېرني توري باندې ۱. غږوندی «سکون» وه، ۲. او يا دغه توری الف وه نو په خپل اکر پاته کېږي.

| | بېلګې : | |
|---|---|---|
| | په روان اکر کې : | د اودرېدلو په اکر کې : |
| غږوندی | ﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن﴾ | ﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن﴾ |
| الف | ﴿يَقُولُ ءَامَنَّا﴾ | ﴿يَقُولُ ءَامَنَّا﴾ |

۴ : که اخېرنی توری ګردی، دوه سترګې (تا) « ة » وه نو په ساکنې (ها) بدلېږي.

| د ګردی (تا) بېلګه : | |
|---|---|
| په روان اکر کې : | د اودرېدلو په اکر کې : |
| ﴿وَبِٱلۡأٓخِرَةِ﴾ | ﴿وَبِٱلۡأٓخِرَهۡ﴾ |

## د اودرېدلو «وقف» ځای :

اودرېدل «وقف» د ځای په اعتبار سره په څو... ډوله ده، او اوږده څېړنه لري؛

خو! دا چې دغه څېړنه د هغه ځای د مانا او مفهوم پورې له آره تړاو لري، يعنې : که مانا او مفهوم ورانېږي اودرېدل تېروتنه وي، او که مانا او مفهوم نه ورانېږي نو اودرېدل سم وي.

نو! په لنډو کې دې دا زده شي چې په هر آيت اودرېږل، او کومې نښې د اوېدلو چې په قرآن پاک کې ليکل شوي هغو ته کتل لامل ددې کېدی شي چې تېروتنه را منځته نه شي.

## ۷ : د الف لام شمسي او قمري څېړنه :

که له (الف، لام) څخه وروسته د (ابغ حجک وخف عقيمه) توري راشي الف لام قمري بلل کېږي اظهار به پکې کېږي، او که له ياد شويو پرته نور توري راشي الف لام شمسي بلل کېږي ادغام به پکې کېږي.

| د الف لام قمري بېلګې : | | د الف لام شمسي بېلګې : | |
|---|---|---|---|
| ۱ : همزه | ﴿وَبِٱلۡأٓخِرَةِ﴾ | ۱ : تا | ﴿هُوَ ٱلتَّوَّابُ﴾ |
| ۲ : با | ﴿يَكَادُ ٱلۡبَرۡقُ﴾ | ۲ : ثا | ﴿مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ﴾ |
| ۳ : غين | ﴿بِٱلۡغَيۡبِ﴾ | ۳ : دال | ﴿مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ﴾ |
| ۴ : حا | ﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ﴾ | ۴ : ذال | ﴿وَلَيۡسَ ٱلذَّكَرُ﴾ |
| ۵ : جيم | ﴿مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ﴾ | ۵ : را | ﴿مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ﴾ |
| ۶ : کاف | ﴿ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ﴾ | ۶ : زا | ﴿وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ﴾ |
| ۷ : واو | ﴿وَعَلَى ٱلۡوَارِثِ﴾ | ۷ : سين | ﴿كَمَآ ءَامَنَ ٱلنَّاسُ﴾ |
| ۸ : خا | ﴿هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ﴾ | ۸ : شين | ﴿فَأَزَلَّهُمَا ٱلشَّيۡطَٰنُ﴾ |
| ۹ : فا | ﴿إِلَّا ٱلۡفَٰسِقِينَ﴾ | ۹ : صاد | ﴿وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ﴾ |
| ۱۰ : عين | ﴿رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ | ۱۰ : ضاد | ﴿وَٱلضَّرَّآءِ﴾ |
| ۱۱ : قاف | ﴿هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةَ﴾ | ۱۱ : طا | ﴿فَوۡقَكُمُ ٱلطُّورَ﴾ |
| ۱۲ : يا | ﴿وَبِٱلۡيَوۡمِ﴾ | ۱۲ : ظا | ﴿مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ |
| ۱۳ : ميم | ﴿غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ﴾ | ۱۳ : لام | ﴿بِسۡمِ ٱللَّهِ﴾ |
| ۱۴ : ها | ﴿هُوَ ٱلۡهُدَىٰ﴾ | ۱۴ : نون | ﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ﴾ |

# د ساکن (لام) ډولونه :

- **د اسم لام**
  - **اصلية**
    - اظهار واجب ده
    - لکه : ﴿مَٰلِكِ﴾
  - **زائدة**
    - **لازمه**
      - په لام کې يې ادغام واجب
      - لکه : ﴿ٱلَّذِينَ﴾
    - **غير لازمه**
      - **لام د تعريف**
        - **اللام القمرية**
          - اظهار واجب ده
          - په (۱۴) توروکې
        - **اللام الشمسية**
          - ادغام واجب ده
          - په (۱۴) توروکې
- **د فعل لام**
  - ۱ **المضارع**
    - اظهار واجب ده
    - لکه :﴿يَلۡفِظُ﴾.
  - ۲ **الماضي**
    - اظهار واجب ده
    - لکه : ﴿فَجَعَلۡنَٰهَا﴾.
  - ۳ **الأمر**
    - که روسته (لام) يا (را) وي
      - ادغام واجب ده
      - لکه : ﴿أَقُل لَّكُمۡ﴾﴿فَقُل رَّبُّكُمۡ﴾.
    - که پاته توري راشي اظهار واجب ده
      - لکه :
      - ﴿رَبِّ ٱجۡعَلۡ هَٰذَا﴾
- **د حرف**
  - که روسته (لام) يا (را) وي
    - ادغام واجب ده، لکه : ﴿بَل لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ﴾ ﴿بَل رَّفَعَهُ ٱللَّهُ﴾
    - پرته له ﴿كَلَّاۖ بَلۡۜ رَانَ﴾ څخه چې هلته د حفص نه
    - دوه کړنلارې راغلې : ۱: اظهار. ۲: ادغام.
  - که پاتې توري راشي اظهار واجب ده
    - لکه : ﴿بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ﴾

# د قرآن پاک په موږ څه فرض او حق دي ؟!

١ : په قرآن پاک ایمان راوړل، او ساتل.

الله ﷻ ویلي : ﴿فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالنُّورِ الَّذِی أَنْزَلْنَا وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ﴿٨﴾﴾ [التغابن]

ژباړه : ایمان راوړئ په الله ﷻ او د هغه په پیغمبر ﷺ او په هغې رڼا (قرآن پاک) چې موږ را لېږلې، او الله ستاسو په کړنو خبر لرونکی ده.

٢ : په قرآن پاک پسې تلل، او عمل پرې کول.

الله ﷻ ویلي : ﴿اتَّبِعُوا مَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ﴿٣﴾﴾ [الأعراف]

ژباړه : په هغه څه پسې ولاړ شئ، عمل پرې وکړئ چې ستاسو د پالونکي (الله ﷻ) له لوري را لېږل شوي، او مه ځئ له هغه څخه پرته پو نورو دوستانو «اولیاوو» پسې، ډېر کم په تاسو کې پند اخلي.

٣ : په قرآن پاک فیصله کول، او له هغه څخه قانون جوړول.

الله ﷻ ویلي : ﴿وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ﴾ [المائدة ﴿٤٤﴾]

ژباړه : او څوک چې په هغه څه چې الله ﷻ رالېږلي فیصله و نه کړي نو هغوی کافران دي.

٤ : د قرآن پاک په حق سره لوستل.

الله ﷻ ویلي : ﴿الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَتْلُونَهُ حَقَّ تِلَاوَتِهِ أُولَئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِ وَمَنْ يَكْفُرْ بِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ﴿١٢١﴾﴾ [البقرة]

ژباړه : هغه (کسان) چې موږ (محکې) کتاب ورکړی وه لولي هغه (قرآن) په حق لوستلو سره، هغوی ایمان ور باندې راوړي، او څوک چې کفر پرې کوي هغوی تاوانیان دي.

٥ : په قرآن پاک کې سوچ او فکر کول.

الله ﷻ ویلي : ﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا﴿٢٤﴾﴾ [محمد]

ژباړه : آیا دوی په قرآن کې سوچ او فکر نه کوي ؟! که په زړونو یې تالې، قفلونه لګېدلي.

### ۶ : په قرآن پاک سره خپل زړه ته ډاډ او اطمینان ورکول.

الله ﷻ ویلي : ﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ جُمْلَةً وَاحِدَةً كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا﴿٣٢﴾﴾ [الفرقان]

ژباړه : او وايي هغه خلک چې کفر يې کړی : ولې نه راښکته کېږي دا قرآن په هغه (محمد ﷺ) په یو وار ؟ (الله ﷻ ورته وايي) همداسې (موږ دا قرآن لږ لږ را ښکته کړو) چې ستا زړه وربانديې کلک او ډاډمن کړو، او موږ په کراره لوستی هغه (قرآن) په کراره، کراره لوستلو سره.

### ۷ : په قرآن پاک سره خپل ایمان ډېرول.

الله ﷻ یې دغه حق په سورت الانفال (۲) ایت کې یاد کړی.

### ۸ : قرآن پاک د شپې په لمانځه کې په کراره لوستل.

الله ﷻ ویلي : ﴿يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ﴿١﴾ قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا﴿٢﴾ نِصْفَهُ أَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا﴿٣﴾أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا﴿٤﴾﴾ [المزمل]

ژباړه : اې په بستره کې ځان نغښتونکې (۱) (ټوله) شپه اودرېږه پرته له لږ برخې (۲) نیمايي د شپې او يا له هغه (نیمايي) نه هم لږ کم کړه (۳) او یا لږ ورباندې زیات کړه او په کراره سره قرآن لوله په کراره، کراره لوستلو سره.

### ۸ : قرآن پاک ته ژمن پاتې کېدل.

ددې حق په اړه یې مخکې په (۱۱) مخ کې دلیل تېر شو.

### ۱۰ : د قرآن پاک خوا ته بلنه ورکول.

الله ﷻ ویلي : ﴿وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ آيَاتِ اللَّهِ بَعْدَ إِذْ أُنْزِلَتْ إِلَيْكَ وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴿٨٧﴾﴾ [القصص]

ژباړه : او (کافران) دې تا بند نکړي د الله ﷻ له ایاتونو څخه وروسته له هغه چې تاته را ښکته شوي، او بلنه ورکړه خپل پالونکي (الله ﷻ) ته، او مه کېږه له مشرکانو څخه.

## اخځليکونه:

| د کتاب نوم : | د ليکوال نوم : | د مړينې نېټه : |
|---|---|---|
| القرآن الكريم | | |
| صحيح البخاري | امام محمد بن اسماعيل البخاري | ۲۵۶ هـ س |
| صحيح مسلم | امام مسلم بن الحجاج النيسابوري | ۲۶۱ هـ س |
| مسند أحمد | امام احمد بن محمد بن حنبل الشيباني | ۲۴۱ هـ س |
| سنن أبي داود | امام سليمان بن الأشعث السجستاني | ۲۷۵ هـ س |
| سنن الدارقطني | الحافظ علي بن عمر الدارقطني | ۳۸۵ هـ س |
| شرح صحيح مسلم | يحيى بن شرف النووي | ۶۷۶ هـ س |
| أحكام قراءة القرآن الكريم | شيخ المقارئ المصرية محمود بن خليل | ۱۴۰۱ هـ س |
| التجويد المصور | الدكتور أيمن رشدي سويد | |
| الصحاح | اسماعيل بن حماد الجوهري | ۳۹۳ هـ س |
| المقتضب | محمد بن يزيد المبرد | ۲۸۵ هـ س |
| الشافية | عثمان بن أبي بكر ابن الحاجب | ۶۴۶ هـ س |

نور هم د تفسير، حديث، تجويد او عربي ژبې ډېر کتابونه دي چې موږ ورڅخه ګټه اخيستې د ځينو نورو نومونه به هم په کتاب کې ياد شوي وي، الله ﷻ دې تولو ته ښې بدلې ورکړي؛ آمين.

## پای :

په اخېر کې له خپل مهربان رب ﷻ څخه غواړو چې دا کتاب زموږ د دنيا او آخرت د فلاح لامل وګرځوي، او نورو مسلمانانو ته په ګټه ورکولو سره يې زموږ لپاره منل شوي روانه ښېګڼه او صدقه وګرځوي. آمين يا رب العالمين. وصلى الله على نبينا وآله وصحبه آجمعين.